مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۵/۱۵

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۳۹مه برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۸۰مه برخه

ما د ۲۰۲۵م میلادي کال د سپتمبر پر یوویشتمه نېټه د «نیمګړې مینه» فیسبکپاڼي د چلونکي ښاغلي سمیع‌الله حسین‌خیل او د ده د فیسبوکپاڼي په باب ــ چې د لنډیو د خپرولو له پاره ځانګړې شوې ده ــ یوڅه معلومات درنو لوستونکو ته د «لنډۍ، د ښتولو ستونزه ۳۴۲مه برخه» او د «د لنډیو اصلي منابع خلک دي، شلمه‌برخه» کې لیکلي او وړاندې کړې وو، دا لاندې یې لینک دی، که مو وخت درلود، کولای شئ ویې‌لولئ:

https://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/Bahand_a_landay342.pdf

د ۲۰۲۶ ام کال د مۍ پر اتمه نېټه بیا راپیدا شو او د ډنمارک په وخت د مازدیګر پر پنځه‌بجې او پنځه‌لس دقیقې یې چټنګ راسره پیل کړ. دا زموږ د لنډ چټنګ بشپړ متن دی:

«نیمګړې مینه:

سلام!

آصف بهاند:

سلامونه!
هیله ده چې روغ اوسې.

نیمګړې مینه:

سلامونه او نېکې هیلې، استاد محترم!
هیله ده چې روغ، جوړ او د ښه صحت څښتن اوسئ.

یوه څه ټپې مې راټولې کړې دي، کېدای شي ستاسو د ذوق او د پښتو ادبیاتو لپاره ګټورې اوسي.

آصف بهاند:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا خو ښه خبره ده، تاسو یې راولېږئ، زه به له یوې تبصرې سره مل خپرې کړم.

نیمګړی مینه:

سمه ده انشاالله.»

لنډۍ یې راولېږلې، ما راخوندي کړې او داسې مې ورته ولیکل:

ډېره مننه!

زه به دا لنډۍ په کراره وګورم، کومې لنډۍ چې ما ته تکراري دي، یعني چې ما پخوا تر دې راټولې او خپرې کړې دي، هغه به ترې لرې کړم او نورې به خپرې کړم.

بریا!

ده په ځواب کې داسې راته ولیکل:

نیمګړی مینه:

ډېره مننه استاد محترم! دا زموږ د ټولو ګډ مسؤولیت دی چې د خپلې خوږې پښتو ژبې او ادب خدمت وکړو او خپلې ولسي پانګې ژوندۍ وساتو. ستاسو لاربښووني او زحمتونه زموږ لپاره د هڅوني لویه سرچینه ده. الله دې وکړي چې په ګډه وکولای شو د پښتو ادب لا بډای او خدمت ورته وکړو. په درنښت او نېکو هیلو، بریا مو په برخه شه!

او په پای کې دا سپینه خبره هم راته ولیکله:

په دغو ټپو کې ځینې داسې هم شته چې زما فالورو راته په کمېنټونو کې لیکلې دي.

ما بېرته ما داسې ورته ولیکل:

زه له تاسو هم مننه کوم او ستاسو له فالورانو نه هم، زما لنډۍ په کار دی، له هرې پټې چې وي.

بیا هم مننه!

او د چټنګ په پای کې یې د نورو لنډیو د رالېږلو وعده هم وکړه:

«سمه ده انشاالله نورې به هم را جمعه کړم.»

دا دی ښاغلي سمیع‌الله حسین‌خیل بیا هم د پښتنې فولکلور او خپلې ژبې سره د مینې پر بنسټ یوشمېر لنډۍ رالېږلې دي. زه د ده له قلمي مرستې نه په مننې سره دا لنډۍ تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

**خدای به دې بله چاره وکړي**
**زما د پوزې پېزوان مه پلوره مئینه**

**بیا مې تیکری په پیڅکه راغی**
**زما باور دی چې شیرین لالی راځینه**

**بخته نامراده چرته لاړې**
**یو ځلې راشه چې د سیال سره سیال شمه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**بیګا مې پلار په کور کې یاد کړې**
**زه تر ګیځه پورې خوب کې غړیدمه**

**باده سالو دې ورنه یوړو**
**زړه مې خوشحاله شو دعا درته کومه**

**بیا مې ټیکرى په پیښکه راغی**
**زما باور دى چې شیرین لالی راځینه**

**باران وریږي لیلا ژاړي**
**څادر مې غواړي چې یخنی نیولې یمه**

**په وطن سپینې واورې وشوې**
**ژمی داخل شو، پیښور ته کډه وړمه**

**پۀ طمه، طمه به دې زوړ کړي**
**نۀ به دې یار کړي، نۀ به درکړي ځوابونه**

**په ما دې خپله قدر کم کړو**
**د سرو په تول به مې تللې وې مئینه**

**په مازدیګر دى کډې بار کړې**
**په مازدیګر دګنهګاورو کډي ځینه**

**پورته په  غرو د باران زور دى**
**ښـکـتـه لامـده شول د لونګو درمندونه**

**په یارانه پیښمان ته وایه**
**یاري دې نه کړي، خو پښتو دې وساتینه**

**په تمه تمه به دې مړ کړم**
**نه به دې یار کړم نه به درکړم ځوابونه**

**پۀ توره شپه مې پسې بوځئ**
**ټړلی زړۀ مې ځنځیرونه ماتوینه**

**پښتنې پیغلې ښایسته وي**
**تور یې پیکي، لوړې ځوانی، شنه یې خالونه**

**په جوارۍ ناسته لالیه**
**په داو دې نه یم، ستا په وچو شونډو یمه**

**پوله پټی مې د پلار نهشته**
**له مجبورۍ نه درته نیسمه لاسونه**

**په کتابونو کې څه نسته**
**په تورو سترګو کې لاهو دي ټول رازونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په نیمه شپه دیدن ته راشه
خلک ویده وي ستوري نه وايي حالونه

په کتو تنده نه ماتیږي
ملالۍ شونډې راکوه له تندې مرمه

په قد کې دواړه سره سم یو
په تا مې جیګ د ګوړګوټي ویښتو سرونه

پرون مې پړه کړلې شیرینې
نن دې زما مخې ته رېږدي اندامونه

پړ به دې کړم، پړه به مې نه‌کړې
ما د سندرو سیپارې لوستلې دینه

په ونه دنګ لالی مې نه‌شته
چې چېرته دنګه ونه ګورم زړه مې چوینه

په ښـو دې ټکـی مـه غږیږه!
ما خو له شرمه په خـوله ایښي دي لاسونه

په نه خبره مروره
واوره خبره زه دې نه پخلا کومه

پر زړه به غټه تیږه کیږدم
ستا د جفا به چاته نه‌وایم حالونه

پر زړه به غټه تیږه کیږدم
یا به پـړک وچوي، یا به صبر له تا شینه

پر زړه به غټه تیږه کېږدم
یار رانه درومي د ملکو پناه به شینه

په زړه به غټه تیږه کیږدم
بیا به په نوم ده یاراني خلک رټمه

پر لالي پام کوه نازک دی
زما چې یار ؤ ما یې ډېر قدر کاونه

په زړه به غټه تیږه کیږدم
بې درده یار ته به ونه وایم حالونه

په تا د پیغلو بنډار تووډ دی
په لیوني یار دې حجرې ابادې دینه

په ما دې وکړه په تا وشه
واړه دې مړه شه لوی دې وغواړه خیرونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**په ناڅاپي مرګي که مړ شوم**
**د وطن غم کې به مې زړه چاودلی وينه**

**ديدن کوه! سترګي مړې کړه**
**سبا به وايې چې مې خوب ليدلی وونه**

**د کبرجنو خلکو زور دی**
**زما بنو کې اوښکې ډنډ ولاړې دينه**

**دا په ګلاب پرخه پرته ده**
**که د جانان پر مخ خولې راغلې دينه**

**د ژمي څومره لويه شپه ده**
**چې دوه مئين سره يوځای شي لنده شينه**

**د مازديګر ژېړيه لمره**
**يا مې در واخله يا راتول کړه تنابونه**

**د لاس مې بله نښه يوسه**
**رومال مې مه وړه زه پرې اوښکې پاکومه**

**د بل وطن په ميرو ورکه**
**د مور نازکه غم د تکه زيړه کړمه**

**د دې تپې څواب مې راکه**
**کور مې د سيند په غاړه دی له تندې مرمه**

**د هديرې خوا ته يې يوړم**
**نښه دې راکه چې عمري په سفر ځمه**

**داسې بې سره دې عادت کړم**
**چې ودې نه وينم پېران پر ما راځينه**

**د پېغلتوب ستر مې مات شو**
**د لارې غنو مې تيکری نيولی وونه**

**د خپل وجود فکر مې نه خوري**
**ته به بې ياره شې، پر تا ژړا راځينه**

**د زورور سره دې سر شه**
**لاليه سخت دې بېچاره موندلی يمه**

**دا عاشقی محتاجه ژونده**
**مين په تا يم خيال د ټول کلي ساتمه**

**د بام په سر يې ګلان وچ شول**
**نـه‌شته ليلا، اوبه به څوک ورخيجوينه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ [maqalat@afghan-german.de](mailto:maqalat@afghan-german.de)
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دا پیغلتوب به دې خدای تېر کړي
جلکۍ په تور اوربل دې مه وهه لاسونه

د هديرې خوا ته يې يوړم
نښه دې راکه چې عمري په سفر ځمه

د مازديګر اورونه بل شول
جانان مې نهشته، سترګې چاته واړومه

د نجلۍ مخ پردی وطن دی
څوک چې پردي ملکونه خوري، سر به پرې ږدينه

د نجلۍ مړاوې مړاوې سترګې
لکه ګلاب چې د دوه نيمو ورځو وينه

دنګه دې غاړه، دنګه ونه
شيرينه ياره په ديدن پسې دې مرمه

دنيا به پاتې شي له مانه
چې يار خبرېږي، زه به تورې خاورې يمه

دنيا د يار له سره ځار کړه
دنيا به تل وي ياران کله ـ کله وينه

دنيا د غم په ورځ پيدا شوه
زه لېونی دېېغمی تمه لرمه

داسې نری يې لکه لښته
خدای دې زما په غېږ کې ماته کړه مينه

د تسلی ملګري څه شول
د انديښنو سېلاب مې ښکته پورته وړينه

د پسرلي باد او باران دی
کوچۍ د غره لمن کې بوټي ټولوينه

د مازيګر زيـړيه لمره
ته به ولاړ وې ما به تور لحد ته وړينه

دړه‌کې پورې، دېوه مړه که
ای غنمرنګه ووړکيه خدای درکړې يمه

د تور لحد وصيت مې دا دی
وروستۍ تبۍ به مې مورکۍ راباندې ږدينه

د مازديګر زيـړيه لمره
ته رانه لاړې پر ما پرېوتل ګردونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د جلکی درې ورونه زلميان شول
له کبره سور ټيکری په پښو کې ځکوينه

ژوند به مې دومره پيښمان کړم
ځان به په خپله په رسۍ را ځوړند کړمه

زما ديدن ستا پهٔ قسمت و
باد پرې بانه شو، ټيکری لاندې ولوېدنه

زنه يې خلاصه کړئ مخلوقه
وړکی ژوندی دی ما خو هسې ځوروينه

زما دعا سلام پرې وايه
بيا ورته وايه ماشومان دې يادوينه

زما ټوټې ټوټې زړګيه
چې مازيګر شي په جارو دې ټولومه

زړګيه صبر دې په خدای شه
پردي راوړي د چا څه پروا لرينه

زما راستي دې ليونی کړه
چې سپيني واوري اوريدې دروو‌تمه

زړه مې پخپله په ځان سوځي
چې زه دې خپلي مجبورۍ ته وګورمه

زلفي په بر ګودر کې وينځم
په نري باد يې وچوم تا پرې سېزمه

زړه مې په دنګه پيغله بيلو
له سورسالو چې راته پورته کړل لاسونه

زلفي دې تورې ګنې، ګنې
دمنديئيرځنګل مې خيال ته نه راځينه

زلفي د هر چا په مخ زانګي
د لېونی په مـــخ د سرو زرو تارونه

زما د خپلي خوښي ياره
زه به له تانه زړګی څنګه صبرومه

زه دې په ځان باندې مين کړم
ته اوس کوه په غځېدلو پښو خوبونه

زما ښيرې به درپسي شي
هسې د سوي زړه مې ماخله ازارونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

زما ربښتیا به درپسي شي
په بازاري وعدو دې تېر وېستم مئینه

زما د عمر برخه غم شو
د عمر برخې تر مرګیه پورې وینه

زه یې په سره تیکري مین یم
زما له قصده تور تیکرۍ په سرکوینه

زما دیدن ستا پهٔ قسمت و
باد پرې بانه شو، تیکرۍ لاندې ولوېدنه

زړه مې ترې صبر کړې خدایه
د تورو خاورو په ډیري یې ویلې شومه

زما د مینې اشنا نهشته
چې په تقسیم راسره وویشي غمونه

زما په برخه دې ګلاب کړ
مدام یې غم د رژېدو راسره وینه

لعنت زما په بې وسۍ شه
له خدای راکړې لالي سترګې پټومه

له مجبورۍ مې درته شا کړه
نه بې وفا یم نه په زړه کافره یمه

له زړه مې یو الله خبر دی
هسې د خولې خندا همزولو ته کومه

که په قاچاق مې لالی مړ شو
زه به ښیرې د کلي وړکو ته کومهٔ

کبر دې زیات را باندې وکړو
تر سر دې لاندې شه، نامرده مړوندونه

کټ مې په لار کې ورته کېږدئ
چې بې وفا جانان مې وکړي دیدنونه

که ورستنی نښه یې غوښتهٔ
له سره کفنه مې توټه ورکړئ مئینه

که مجبوري نه وای جانانه
تابه لیدلي واس زما لیونی مینه

کله دې غم راباندې بار شي
کله دې مینه په درندو کانو تلمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کابل ډوبيږي، زړۀ مې ډوب شو
چې بيا جوړيږي زۀ به تورې خاورې يمه

که مازديگر ازار قبليږي
په جاينماز ښبرې کوم، تا غرقومه

که بې وسي نه وای خاونده
زه به په ډمه جيلکۍ ولې يادېدمه

که رښتيا وايم بيا به ژاړې
تا د يارۍ په منځ کې څه پرېښې دينه

کابل خو ښه مزل يې بد دی
زما ګل رنګ جانان يې زېړ ځېښلی کنه

مرور ګرځه، پرواه نهشته
زه چې بيا تاته سوال کوم قيامت به وينه

مسافرۍ مې زړه نری که
چې تش وطن رايادوم ژړا راځينه

ماته پرې کړی ځواب راکړه
زه دې د بلې يارانې ايستلی يمه

ما ته دې څهوې، زما هير شول
ماته هغه خبره بيا وکړه مئينه

ملامت ما مه کړې خاونده
ملامت يار ښه دی چې ځمکه ګروينه

مينه چې راشې انسان ړوند شي
جينۍ د مصر ښار پرېږدي يار سره ځينه

ما ته په کور کې لالی ناست دی
دا نوره وړکـــــي هسې جمې جوړوينه

منګاسو څه شی ارنه غواړی
وينه مې نشته تش هډوکي پاتې يمه

ما ته دې خپل جانان راياد کړ
مولا دې ورک کړه ځنګيدلي قدمونه

نن مې د يار د راتلو ورځ ده
پۀ ډېر کاته مې پردی بام وسولاوونه

نورې ښبرې به درته نه کړم
دومره خفه شي لکه زه چې ځومره يمه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**نه به ارمان درپسي وکړم**
**نه به له برګو سترګو اوښکي توئی کړمه**

**نه دې ياري راسره وکړه**
**نه دې تيګي په زړه کې شته چې صبر شمه**

**اوس مې جامې پۀ تومت رنګ کړې**
**څۀ چې قضا د رب وي، زۀ پرې رضا يمه**

**اول دې قد راسره سم کړه**
**بيا مې په تورو زلفو ووهه لاسونه**

**اوس مې د عمر تاوان راکړه**
**نرۍ نرۍ خندا دې کړه رنځور دې کړمه**

**ارمان به هله زما وکړې**
**چې نه مې وينې نه مې غږ اورې مئينه**

**اسمان کې غبرګې پرکې وشوې**
**د تورو خاورو ياره څه درشوي دينه**

**اوس مې له کوره ولې باسې**
**پۀ خندا ووايه چې خولۀ نۀ درکومه**

**ايتا چې نوم په کور کې واخلي**
**له ډېره نازه پر ادې وررانګه شمه**

**اوښانو بياغاړې کړې کړې**
**چې پرې سپرې دي سپيني خولي زېر پېزوانونه**

**هيچا مې مخ ليدلی نه ؤ**
**بې وروره خور يم خيراتونه ټولومه**

**هسې مې ويل تا ته مې نه ويل**
**ما ويل چې خوږ لالی به بيا کله راځينه**

**هر څوک تر خپله ياره راغلل**
**ستا د راتک لارې خالي ولاړې دينه**

**همزولی يار د چا مړ مه کړې**
**همزولئ يار د زړګي ولې پرې کوينه**

**هغه مې ګل له لاسه نااخلي**
**زه يې د زهرو ګولۍ هم له لاسه خورمه**

**ياره مثال دې د سپوږمۍ دی**
**تر څوارلسمې دې دوران دی تېر به شينه**

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**یا د لونګو امیل خوړ وي**
**یا د جانان په غاړه هسې خوند کوینه**

**یاري د کور کلي مزه کړي**
**چي مخامخ شي دواړه شنه له خندا شینه**

**یاري خو تا کړه ما خو نه‌کړه**
**اوس یې چي لنډه پرېکوې، ژړا راځینه**

**یاري د جګې جینۍ خوند کړي**
**تیته دې ورکه شي، نوکاري لګوینه**

**یا دې په جګه غونډۍ کور وای**
**یا دې چاپېر لهٔ کوره نه وی دیوالونه**

**یار بل وطن ته روانیږي**
**په غرغره نتکی مې چړ د اوښکو ځینه**

**یوه د سوز ټپه به وکم**
**چي لیونی جانان مې بل وطن ته ځینه**

**جانان زما غېږ کي ویده دی**
**له خپله لاسه مې شوملي ورکړي دینه**

**جــانـانـه غټ پســه حــلال کــړه**
**زه به درځمه توري سترګي سره لاسونه**

**جانان په حسن زورور دی**
**او د زورورو لاری چا نیولی دینه**

**جانان که مري که پاتې کیږي**
**دا مې عادت دی نرۍ سترګي تورومه**

**جینۍ په دوو سترګو ړنده شي**
**راپسې شاته دې کتل رنځور دې کړمه**

**جینۍ ښیرې به درته وکړم**
**د ملنګانو خلکو مه اخله ازارونه**

**جانان د بل د خولې سړۍ دی**
**اورم ژوندی دی په دیدن پسې یې مرمه**

**جانان دې نوره یاری پرېږدي**
**په نوم یې زه بدنامه یم، ما دې ګټینه**

**جینۍ تیکري پیڅکي نه نیسه**
**که د یارۍ مطلب یې وي پاتې به شینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

چې څومره تور یم، دومره خوږ یم
د زړه په سر مې لونګین کړلې دینه

سترګې مې دوې درته څلور شوې
راکوزه نه شوې د دیدن پهٔ کندوونه

سترګې خو   هر چا  تورولې
په دې ویران وطن کې زه په ګوته شومه

سترګې دې توری کړه شیرنې
چې دې د تورو سترګو وکړم دیدنونه

سترګې دې غټې شوندې سرې دي
ګلاب ګلاب ښایست دې روغ لیونی کړمه

سترګې کچکول کړه دیدن وکړه
تور لونګین مې په سینه ټالې وهینه

سترګې دې ډکې،ډکې کیږې
لالیه! بیا دې زړه ته څه راغلي دینه

سالو مې پاس په پېرې زوړ شو
پېزوان مې زنګ شو، جانان کور ته نه راځینه

سبا به بیا بازار ته لاړ سی
د لونګین ځوندې دې کم راوړي دینه

سالو دې ډک له ګلو راوړ
نن دې د کومې باغچې کړې دې سیلونه

ستا د رباب تنګ مې تر غوږ شو
کندول پهٔ لاس، منګې ته تږې ودرېدمه

سترګې دې پټې کړه خوله راکه
دوه ګواهان خو سرې دار ته خیژوینه

سپینې نرۍ جامې به وکړم
لکه حاجۍ به پکې سپینه ناسته ومه

سبا به لوړ چنار ته خیژم
که نور څوک نه وي خپل اشنا به ووینمه

ښېرې ازور به ورته وکم!
زه دې بدرنګ سرې ته چا ورکړې یمه

ټول مسافر کلي ته راغلل
یا یار خپه دی یا له قصده نه راځینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ټوټې، ټوټې مې ورله وېسئ
چې لیونی راباندې سر وشوکوینه

ته به له قصده مرور یې
زه به د زړه له مجبورۍ درپسې مرمه

تبۍ راواخلئ، مخ مې تور کړئ
ما د بې ننګو یاري کړه وشرمــېدمه

ته به مئین وې یا به نه وې
په ما دې مور هسې خبره کړه مئینه

تنور چې ګرم شي بیا سوړ شي
زړه چې مین شي، همیشه لمبې وهینه

ته رانه لاړې، غم دې راکړو
بیا چې راځې، زه به د خاورو لاندې یمه

توره تېره، لاس دې ازاد دی
یو یار مې ته یې لس مې نور نیولي دینه

تا چې لېدم هغسې نه یم
اوس په لکړه د تنور غاړې ته ځمه

تا که زما زړه ته کتلی
زه به په بېرته بېرته تلم تا به نیومه

ورشه د یار خبر دې واخله
چې بې دیدنه دې ساته لېونی شونه

ورځه ورځه تر غرونو واوره
مورې د کم اصلو خلکو نکړو ارمانونه

ولاړه یې، ولاړه اوسه
چا دې صفت راته کوو راغلی یمه

ولاړه یم لاړه به نه شم
تا به د زړه په رنځ اخته کړم بیا به ځمه

ورشه پخپله اوبه وڅښه
عادت مې نه دی لپه نه درډکوومه

ورکه یاري شه، ورک یې نوم شه
له مجبورۍ نه پېغلې بل خوښه کوینه

غټې مې سترګې اوږدې زلفې
غټې جامې مې د کوچیانو کړې دینه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

**غاړه مې بنده شه جانانه**
**که زه په تا او ځان کې فرق کولای شمه**

**غربته څه لوبې دې وکړې**
**په شته لالي پسې مې تښوهل لاسونه**

**عالمه ځنګه ترې توبه کړم**
**ما پرې اخیستي دي د کلي تهمتونه**

**عالمه ځنګه ترې توبه کړم**
**زما اشنا ما سره کړي دي ننګونه**

**عمر د باد په شان تیریږي**
**که جانان سل کاله نیته کړي تېر به شینه**

**خدای به پخپله مازیګر کړي**
**د چنارو سرو ته مه خېژه مئینه**

**خدای ته به ځنګه څواب ورکړې**
**چې په دیدن قضا کوې فرضي لمونځونه**

**خدای ته به داسي څواب ورکړم**
**نوی مئین ووم په دیدن نه مړېدمه**

**خدایه واړهٔ بچي یې مړهٔ کړې**
**څوک چې زما پهٔ لالي تور پورې کوینه**

**څوک چې د یار کلي ته لاړ شي**
**چې بی دیدنه ترې راځي نو مړ دې شینه**

**څوک په رضا له ملکه نه ځي**
**یا ډېر غریب شي، یا د یار له غمه ځینه**

**ځنګه چې ستا زلفې کږې دي**
**داسې کاږه دي د دنیا واړه کارونه**

**قلم، قلم درپسې زه شوم**
**په کاغذي سینه دې نور کوي خوبونه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ